**بسم الله الرحمن الرحیم**

# محمد صلاح؛ د اسلامي امت ویاړلی شهید!

**(ژباړه)**

**خبر:**

په پراخه کچه د مصري شهید محمد صلاح یادونه، چې د «واقعي ویاړلي عرب» لقب یې ورکړ. (سرچینه: عربي ۲۱)

تبصره:

د کنانه مصر ـ صلاح الدین، قطز او بیبرس له خاورې ـ یو ځوان مسلمان سرتېري د غدارانو تړونونه او استعماري پولې تر پښو لاندې کړې، له یهودانو سره یې جګړه وکړه، پر شا نه ولاړ او د شهادت لوړې درجې ته ورسېد. الله تعالی دې پرې رحم وکړي!

دغه ځوان مسلمان سرتېری مسلمانانو ته ثابتوي او دوی ته وايي: «له خپلو پوځونو څخه مو هیلې له لاسه ورنه کړئ؛ ځکه موږ له تاسو څخه یو او تاسو له موږ څخه یئ! موږ ستاسو احساسات احساس کوو او پر غم مو خپه کېږو!»

دغه سرتېری مسلمانو ځوانانو ته وايي: «پر هغه څه بوخت شئ، چې دین او آخرت ته مو ګټه رسوي! د خالي ذهنونو له پیروانو او له هغه څه څخه چې د غرب رسنۍ او پیروان یې وايي لرې شئ!»

دغه ځوان مسلمان سرتېری اسلامي امت ته دا پیغام لري او دوی ته بلنه ورکوي، چې د ذلت ګرد له خپل ځان څخه لرې کړي او له هغو غدارو حکامو څخه پیروي ونه کړي، چې شپه او ورځ د یهودي رژیم په چوپړ کې سبا کوي.

موږ باید دغه پېښه په نظر کې ونیسو او لکه د سیسي او دې ورته رسنیو په څېر هغه له پامه ونه غورځوو او حقیقت یې جعل نه کړو.

الله سبحانه الله وتعالی دې د اسلامي امت پر ویاړلي اتل شهید محمد صلاح رحم وکړي!

لیکنه: عبد العزیز المنیس

۱۴۴۴ هـ.ق کال، د ذی القعدې ۱۹مه

۲۰۲۳م کال، د جون ۸مه

ژباړه: فریدون محتاط